# رسول الله صلی الله علیه وسلم به له هر لمانځه وروسته دغه ذکر کاوه

له ابو الزبير څخه روايت دی وايي: ابن زبير به چې د هر لمانځه په پای کې سلام وګرځاوه نو (دا ذکر به يې ويل) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ» له الله پرته بل معبود نشته، هغه يو دی او هېڅ شريک نه لري، هغه لره پادشاهي او ستاينه ده او هغه پر هر څه قادر دی، له الله پرته بل هېڅ حال بدلوونکی او ځواک نشته، له الله پرته بل هېڅ معبود نشته، او مونږ له هغه پرته دبل هېچا عبادت نه کوو، هغه لره لورينې او هغه لره فضل دی، او د هغه لپاره ښه ستاينه ده، له الله پرته بل هېڅ معبود نشته، (مونږ) هغه ته په عبادت کې اخلاص کوونکي يو، که څه هم کافران (زمونږ دا «کړنه) بده مني او ويې ويل چې : « رسول الله صلی الله علیه وسلم به له هر لمانځه وروسته دغه ذکر کاوه.
[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هر فرض لمانځه وروسته دغه ستر ذکر کاوه، چې معنا يې دا ده: "لا إله إلا الله": يعنې: له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته. "وحده لا شريك له" يعنې: هغه لره په الوهيت، ربوبيت، نومونو او صفتونو کې هېڅ شريک نشته. "له الملك" هغه لره پادشاهي ده" ؛ مطلقه، عامه، شامله او پراخه واکمني، چې د اسمانونو، ځمکې او څه چې د دوی تر مېنځه دي د ټولو واکمني هغه لره ده. "وله الحمد" هغه په مطلق کمال سره ياد شوی، په هر حال کې په بشپړ محبت او لوی سره په آسانتيا او سخت کې ستايل شوی. "وهو على كل شيء قدير" او هغه په هر څه قادر دی، ځواک يې بشپړ او هر اړخيز دی، هېڅ شی هغه لره عاجزولای نشي، او هېڅ کار د هغه لپاره ناشونی ندی. "لا حول ولا قوة إلا بالله" يعنې له يو حالت نه بل ته او د الله جل جلاله له اطاعت څخه نافرمان ته اوړېدل نشته مګر د الله په توفيق سره؛ هغه ذات توفيق ورکوونکی او پر همغه توکل دی. "لا إله إلا الله، ولا نعبد إلا إياه": "له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او مونږ له هغه پرته د بل چا عبادت نه کوو" پدې کې د الوهيت پر معنا او د شرک په نفي ټينګار شوی او دا چې له هغه پرته بل څوک د عبادت مستحق ندی. "له النعمة وله الفضل": هغه لره لورينه او مهرباني ده، دی هغه ذات دی چې نعمتونه پيدا کوي او لري يې او له خپلو بندګانو څخه يې چې چاته وغواړي هغه ته يې ورکوي. "وله الثناء الحسن": د هغه لپاره ښايسته ستاينه ده؛ د هغه په صفتونو، افعالو، نعمتونو او هر حال باندې. "لا إله إلا الله، مخلصين له الدين": "نشته دی لايق د عبادت مګر يو الله دی (مونږ هغه ته په عبادت کې اخلاص کوونکي يو)": يعنې په يووالي کې هغه ته اخلاص کوونکي يو، نه ځان ښودنه کوو او نه د الله تعالی په پيروي کې ځان مشهوروو. "ولو كره الكافرون"، "که څه هم کافران له دې څخه کرکه لري" يعنې: د عبادت کې ثابت قدمه يو، که څه هم کافران دا بده ګڼيالله جل جلاله په وحدانيت او د هغه په.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6203

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee